بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

ستره محکمه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۲ زمری ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۹ صفرالمظفر ۱۴۴۸ هـ ق | ۱۳ اګست ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۳)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د دارالانشاء د نوي عمومي رئیس د معرفت غونډه وشوه

د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست نوی رئیس محترم مفتي رحمت الله صاحب، د شنبې په ورځ (۱۴۴۸/۲/۲۴هـ ق) نېټه د سترې محکمې مسؤولینو او د یاد ریاست منسوبینو ته معرفي او رسمًا یې خپلې چارې پیل کړې.

د معرفت په دې ناسته کې، چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب، د مرکزي ریاستونو یو شمېر رئیسانو او د دارالانشاء عمومي ریاست منسوبینو ګډون درلود.

ناستې ته د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) صاحب وینا وکړه وویل، د اسلامي امارت په محاکمو کې دنده امتیاز نه، بلکې یو امانت دی؛ بناءً زموږ ستاسو هڅه باید دا وي، چې دغه امانت په ښه ډول وساتو او خیانت په کې ونه کړو.

محترم شیخ صاحب زیاته کړه، د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د صحیح حدیث مطابق موږ تاسو هر یو د خپل رعیت پر وړاندې مسؤول یو او هر یو به د هغو کسانو په اړه پوښتل کېږي، چې تر مسؤولیت لاندې یې دي؛ نو پر موږ لازمه ده، چې خپلې دندې په داسې ډول ترسره کړو، چې هم الله تعالی رانه راضي وي او هم مو د ولس او نظام خدمت کړی وي.

د دارالانشاء د نوي عمومي رئیس د معرفت یاده ناسته د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده، چې محترم مفتي رحمت الله صاحب له دې مخکې د مرکزي دارالافتاء د اداري مسؤول په حیث دنده ترسره کوله او تازه د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم په اساس د سترې محکمې د دارالانشاء ریاست د عمومي رئیس په حیث ټاکل شوی دی.

## د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د چارو اداري لوی ریاست اړوند د امارت د تأمین لاندې منازلو او جایدادونو بررسۍ ریاست تشکیل د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د ( ۳۷۵۶) ګڼه ، ۱۶ /۱۱ /۱۴۴۷هـ ق نېټې حکم په اساس له کوم تغیر پرته د سترې محکمې د نظامي معاونیت تشکیل ته را انتقال شو .

۲ـ د کابل زون په نظامي محکمه کې د غایبو اشخاصو او ساعین بالفساد د املاکو د بررسۍ نظامي محکمه د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د (۱۵) ګڼې، ۲۷ /۷ /۱۴۴۷هـ ق نېټې فرمان په اساس جوړه شوه.

۳ـ (۳۱) جلده د سوانحو دفترونه اړونده مراجعو ته ولېږل شول.

۴ـ (۱۹) جلده د سوانحو دفترونه له اړونده مراجعو څخه غوښتل شوي.

۵ـ د سوانحو د کارتونو (۷۲) قطعې ترتیبول.

۶ـ د لوړ سن په اساس د (۶۶) تنه اداري او خدمتي کارکوونکو تقاعد کول.

۷ـ د (۷۰) هغو کسانو د خدمت موده تثبیتول، چې له مخکې تقاعد ته سوق شوي وو.

۸ـ په قضائي بستونو کې د تقرر په موخه له (۱۷۲۰) علماء کرامو څخه یو ځای آزموینه واخېستل شوه.

۹ـ د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون سره په همکارۍ او همغږۍ د سترې محکمې د مرکزي حمایوي ریاستونو (۹۵) تنو لپاره د زده کړېزو برنامو اړتیا معلومولو پروسه ترسره شوه.

۱۰ـ د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو (۳۳۶) کارکوونکو ته د موټر چلونې اصول او د لایسنس اخېستلو زمینه برابره شوه.

۱۱ـ د (۱۴۰۶) کال تشکیل د مسودې د طرحې او ترتیب په موخه د (۱۴۰۵) کال د تشکیل بیا کتنه وشوه.

۱۲ـ د (۱۴۰۵) کال منظور شوی تشکیل د سترې محکمې مرکزي ریاستونو او د ولایتونو مرافعه محاکمو ته رسمًا ولېږل شو.

۱۳ـ (۸۱) جلده د سوانحو دفترونه ترتیب شوي دي.

۱۴ـ د (۳۰۹) قضاتو او اداري کارکوونکو ګمارنه او تبدیلي ترسره شوې ده.

۱۵ـ په ډیټابیس کې د (۳۰۹) کسانو د ګمارنې او تبدیلي (پ۲) ثبت شوې دي.

۱۶ـ په ډیټابیس کې (۵۷۰) قطعې د تحصیلي اسنادو، خدمتي او رخصتۍ (پ۲) ثبت او درج شوي دي.

۱۷ـ په ډیټابیس کې د (۳۰۹) قضاتو، اداري او خدمتي کارکوونکو بشپړ شهرت ثبت شوی.

۱۸ـ د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د (۳۲) اداري کارکوونکو د اجراآتو ارزونه ترسره شوې ده.

۱۹ـ د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د (۱۱) خدمتي کارکوونکو د اجراآتو اروزنه ترسره شوې ده.

۲۰ـ د ولایتونو د مرافعه محاکمو د (۵۱۲) اداري کارکوونکو د اجراآتو ارزونه ترسره شوې ده.

## د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د خوراکي توکو، قرطاسیې، تنظیفاتي توکو، د پرینټر رنګونو، د صحافي چارو، مایع ګاز، تیل، روغنیات او فلتر د قراردادونو چارې (۲۵٪) ترسره شوې او پاتې یې تر کار لاندې دي.

۲ـ د (۱۵) عرادو موټرو قرارداد اعلان ته سپارل شوی دی.

۳ـ د سترې محکمې د روغتیایي کلینیک لهٔخوا (۲۰۵۲) مجاهدینو او منسوبینو د تداوۍ، لابراتواري معایناتو، د غاښونو، زرقیاتو، سیروم، اکسیجن تراپي، انتاني ناروغیو او د زړه ګراف په برخو کې اجراآت شوي دي.

۴ـ د سترې محکمې د اړتیا وړ (۱۵۷۴) د معاشاتو او مصارفو، قرطاسیې، د وثایقو، مطبوع، د مواهیرو، ټکنالوژۍ، د اجناسو د خریدارۍ، تنظیفاتي اجناسو، خوراکي توکو، پټرولو، ډیزلو، مایع ګاز، مبلایل، د مبلایلو او ډیزلو فلترونو او نورو بېلا بېلو پرزو حوالې اجرا شوې او د نورو مراحلو په موخه مالیې وزارت ته لېږل شوي دي.

۵ـ د کابل ولایت په مرافعه محکمه کې د مراجعینو لپاره د سایه‌بان او غرفو جوړول، د دفترونو لپاره د الماریو جوړول، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او څلورګونو زونونو د دفترونو رنګمالي او ترمیم، په څلورګونه زونونو او د نشه‌یي توکو په محکمه کې د درې پایو جنراتورونو او چینج آورونو نصب او منتاژ کول او تر فتحې مخکې د سترې محکمې او قضائي زده کړو ریاست د دوه میټرونو د برق باقیداري تصفیه شوې ده.

۶ـ د محاکمو مسؤولینو ته (۶) عرادې موټر توزیع شوي دي.

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﵁ په دوره کې قضاء:**

**اتلسمه برخه:**

او په الخیریة کې داسې راغي: سوله له اقرار، انکار او سکوت سره جائزه ده او امام شافعي (رحمه‌الله) ویلي: سوله له انکار سره جواز نه لري او په دې حدیث شریف باندې یې استدلال کړی: که مدعي په ناحقه سره وي؛ نو د بل څه مال ترلاسه کوي، چې ورته حرام دی او سوله دا حرام حلال ګرځوي.

که چېرې دی پر حق وي او سوله یې د حق پر ځینې برخه وشي؛ نو د خپل حق تر پوره کېدو، چې هر څه زیات وي، د سولې څخه مخکې یې اخیستل ورته حلال دي؛ خو د سولې وروسته وربانديې حرام ګرځي او د خصم لپاره د سولې څخه مخکې حرام دي، چې هغه حق ور نه کړي، خو د سولې کولو سره حلال ورته ګرځي.

موږ وایو: موخه دا نه ده؛ بلکې موخه دا ده، چې عیني حرام باید حلال او عیني حلال باید حرام ونه ګرځول شي، لکه په شرابو، خنځیر او یا د خاوند او مېرمنې ترمنځ داسې سوله، چې خاوند به یې له بلې ښځې سره نه یو ځای کېږي، یا به یې مینځې ته نه ور نږدې کېږي، چې دا ډول سوله بیا حرام حلال او حلال حرام ګرځوي او زموږ په نزد باطله ده.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۰ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې د پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. د میراث او ملکیت حق، د ښځو د لاسرسي اړونده قضیو یو راپور ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۲. د (۳۴) ولایتونو د مرافعه محاکمو څخه د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړۍ ربعې د (حمل، ثور او جوزا) میاشتو د حاضرۍ راپور په مشخص فارمټ کې ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۳. د (۳۴) ولایتونو له محاکمو څخه یو راپور د تمیز له دیوانونو، مرافعه محاکمو، ابتدائیه محاکمو، د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو او د حقوقو ریاست اړوند آمریتونو له اجراآتو څخه ترتیب او اړونده مراجعو ته لېږل شوی دی.

٤. له قضائي اجراآتو څخه (۲) مختصر او تفصیلي راپورونو ترتیب او اړونده مراجعو ته لېږل شوي دي.

٥. د راپور ورکولو په موخه د احصائیې ملي اداري لهخوا د را لېږل شوي احصائیوي فارمتونو ډک او بېرته اړونده اداري ته لېږل شوي دي.

٦. د تطبیقي پلان له تطبیق څخه د ۱۴۰۵ مالي کال لومړۍ ربعې راپور ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۷. د عمدي قتل د هغه قضیو شمېر، چې د طرفینو په بشپړ رضایت د محاکمو لهخوا د دیت په حکم د سولې له لارې حل او فصل شوې؛ راپور یې ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۸. د کابل د فتحې له ابتداء څخه د ۱۴۴۷هـ ق کال د درېیمې ربعې تر پایه د انساني قاچاق قضیو ته د رسېدنې راپور ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۹. د ۱۴۰۴ هـ ش کال د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو، د (۳۴) ولایتونو محاکمو د قضائي او اداري اجراآتو کلنی راپور په بیهقي سالنامه کې د چاپ او نشر په موخه د اطلاعات او کلتور وزارت ته ترتیب او ولېږل شو.

۱۰. د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند د (۱۴۴۵، ۱۴۴۶ او د ۱۴۴۷ لومړۍ ربعې) د قضائي اجراآتو راپور ترتیب او د داراالانشاء عمومي ریاست ته ولېږل شو.

۱۱. د کابل ولایت د مرافعه محکمې له دیوانونو او د هرات، کندهار، ننګرهار، کندوز او بلخ ولایتونو ابتدائیه محاکمو د (۱۴۴۷هـ ق کال) د قضائي اجراآتو راپور ترتیب او اړونده مرجع ته ولېږل شو.

۱۲. د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظهالله تعالی) او ریاست الوزراء عالي مقام لهخوا د صادرو شویو احکامو د تطبیق او عدم تطبیق څخه د څارنې او خبرتیا ترلاسه کولو په موخه (۱۱۸) قطعې راپور ترتیب او د چارو اداري لوی ریاست او د فرامینو او احکامو د تعقیب او نظارت لوی ریاست ته لېږل شوي دي.

۱۳. د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د سفارت خانو او موسساتو د همکاریو د جلب د طرزالعمل مسوده تدوین او د ټاکل شوي هیئت لهخوا نهایي شوه.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. (۵۴۲۹۰) لیتره پطرول او ډیزل تیل، (۲۷۸) کیلو مایع ګاز او (۳۵۳۶) لیتره مبلایل د ولایتي مرافعه امنیتي قطعاتو او اتو زونونو او ولایتي څانګو ته له مرافعه محاکمو څخه اکمال شوي دي، (۲۶۸۷۷) لیتره پطرول او ډیزل تیل او (۱۱۸۹۹) کیلو مایع ګاز، د ملکي محاکمو او نظامي محاکمو قوماندانیو ته توزیع شوي دي.

۲. (۱۱۳۰۰) لیتره پطرول او ډیزل تیل د نظامي محاکمو امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانۍ لخوا اړوند پرسونل ته توزیع شوي، (۱۱۰۰) لیتره پطرول تیل دکابل ولایت (۱۴) ولسوالیو د محاکمو امنیتي پرسونل ته د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ لخوا توزیع شوي دي.

۳. (۱۴۶۴) قلمه مفروشاتي، محروقاتي، البسوي، قرطاسیوي، د پخلنځي لوښي او تعمیراتي اجناس د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست او د ملکي او نظامي محاکمو د قطعاتو قوماندانیو ته توزیع شوي دي.

٤. د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ او د نظامي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ په جزوتامونو کې د (۱۵۰) مجاهدینو تقرر په افسرۍ، ساتنمنۍ او ساتونکو بستونو کې د لیاقت، وړتیا او کادري فورم په اساس ترسره شوی دی.

٥. په اونۍ کې درې ورځې مجاهدینو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) فرمانونه، حکمونه، هدایات، لارښوونې او د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون درسونه تدریس شوي دي.

٦. د خالد بن ولید (رضیالله عنه) تعلیمي مرکز قوماندانۍ لهخوا د یاد ریاست اړوند ملکي او نظامي محاکمو قطعاتو قوماندانیو اداري پرسونل ته د اداري زده کړو لس ورځنی سیمینار جوړ شوی دی.

۷. (۱۰۵) عدده مخابروي او ټکنالوژیکي وسایلو ترمیم، تنظیم او پروګرام ترسره شوی دی.

۸. (۲۲) عدده د پرنټر رنګونه توزیع شوي دي.

۹. د (۱۷۸) عدده مخابروي عینیات توزیع شوي دي.

۱۰. (۳۲) عدده مخابروي او ټکنالوژیکي وسایل د ملکي او نظامي محاکمو امنیتي قوماندانۍ آمریتونو او د مرکز او ولایتي محاکمو قوماندانیو ته توزیع شوي دي.

## د سترې محکمې قضائي زده کړو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي زده کړو ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د قضائي زده کړو ریاست د سترې محکمې عالي مقام د لزوم دید په اساس (۴) سیمینارونه جوړ کړي دي.

۲ـ د سترې محکمې اړوند د محاکمو د فیصلو لارښود کتاب، د مرکزي دارالافتاء ریاست، د جنوب لوېدیځ زون د تمیز ریاست او د دیني خپرونو د نظارت او کره کتنې اداري نظرونه او مشورې، چې په یاد کتاب کې ځای پر ځای شوي وو او همدارنګه ځینې یې چې په کتاب کې نه وه ځای پر ځای شوي؛ یاد ریاست ته د نظر غوښتلو په موخه رالېږل شوي و، چې د رئیس او قضائي استادانو لهخوا د محاکمو د فیصلو لارښودکتاب او د پورته ذکر شویو ادارو نظرونه او مشورې په مشترک ډول له پیل څخه تر پایه په دقیق ډول مطالعه کړل، په پایله کې یې خپلې ملاحظې د محاکمو د فیصلو لارښود کتاب په اړه او دغه راز خپل نظرونه یې د مرکزي دارالافتاء ریاست، د جنوب لوېدیځ زون د تمیز ریاست او د دیني خپرونو نظارت او کره کتنې اداري ملاحظات ترتیب او د سترې محکمې عالي مقام د دفتر لوی ریاست ته رسمًا ولېږل شول.

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴۷هـ ق په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ قضائي مدققینو د شاهدانو د تزکیې طرزالعمل کتاب د قوانینو په چوکاټ کې ترتیب او نهایي کړ او د وروستیو اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۲ـ قضائي مدققینو د سترې محکمې له کتابتون څخه د استفادې د طرزالعمل کتاب پنځوس سلنه کار ترسره کړی دی.

۳ـ قضائي مدققینو د سترې محکمې د اداري غونډو د تنظیم د طرزالعمل کتاب پنځوس سلنه نهایي کړی دی.

۴ـ قضائي مدققینو د قضاتو د رسمي لباس لایحه پنځوس سلنه نهایي کړې او په راتلونکې ربعه کې به نهایي شي.

۵ـ د عدلیې وزارت د مسلکي معینیت د مدني قوانینو ریاست د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظهاللهتعالی) د (۹) مې ګڼې فرمان، ۲۸ /۳ /۱۴۴۴هـ ق نېټه مطابق د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د حقوقي او قضائي مطالعاتو ریاست د طرزالعمل د فقهي تخریج غوښتنه کړې وه، د ذکر شوې غوښتنې په اساس قضائي مدققینو د یاد طرزالعمل تخریج وکړ او د مشرتابه محترم عالي مقام ته د لېږلو په موخه د سترې محکمې عالي مقام د دفتر له لوی ریاست سره شریک شو.

۶ـ د مخزن طرزالعمل د شرعي اصولو او تقنیني سندونو په رڼا کې ترتیب او نهایي شو او د مشرتابه محترم عالي مقام ته د لېږلو په موخه د سترې محکمې عالي مقام د دفتر لوی ریاست ته ولېږل شو.

۷ـ د قضائي تدقیق ریاست د (۲۷۰) جزائي، مدني، تجارتي، د وثایقو اړوند، د متفرقه استهداآتو، د قضائي پلټنې عمومي ریاست، د عارضینو د عرایضو، مکتوبي او مستردي استهداآتي موضوعاتو په تړاو تدقیقي نظرونه وړاندې کړي دي.

## د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. د قضاء او ولس (۴) خپرونې، ثبت، جوړې او د سترې محکمې د رسمي ادرسونو له لارې نشر شوې دي.

۲. د قضاء مجلې ۱۳ مه ګڼه ترتیب، ډیزاین، چاپ او په مرکز او ولایتونو کې محاکمو او امارتي ادارو ته تکثیر شوې ده.

۳. د میزان جریدې ۹ ګڼې (له ۱۲۹ ګڼې څخه ۱۳۷ مې ګڼې) چاپ او په مرکز او ولایتونو کې محاکمو او امارتي ادارو ته تکثیر شوې دي.

۴. د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور د زیاتېدو په موخه (۴۰۰) راپورونه ترتیب او نشر شوي دي.

۵. د هجري قمري نېټې مطابق د محاکمو او نورو امارتي ادارو د اداري اجراآتو د ترتیب په موخه د رؤیت هلال مرکزي هیئت (۳) خبرتیاوې ترتیب، ډیزاین او نشر شوې دي.

۶. د محاکمو د قضائي فعالیتونو اړوند (۴۶) انفوګرافیک جوړ، ډیزاین او د سترې محکمې د رسمي ادرسونو له لارې نشر شوي دي.

۷. د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زیاتېدو په موخه د «ستره محکمه په اونۍ کې» (۴۴) خپرونې په څلورو ژبو (پښتو، دري، عربي او انګلیسي) ثبت، جوړې او نشر شوې دي.

۸ـ د سترې محکمې اړوند مسؤولینو امارتي او شخصي موټرو ته (۲۰) قطعې کارتونه ترتیب او توزیع شوې دي.

۹. د ۱۴۴۷هـ ق کال د (۳) میاشتو کالیزه ترتیب، ډیزاین او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو په نشر سربېره ټولو امارتي ادارو ته په مکتوبي بڼه تکثیر شوې ده.

۱۰. د ورځنۍ نېټې (۹۰) ډیزاینونه جوړ او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوې دي.

۱۱. له رسنیو سره غوره او پر وخت همغږي شوې ده.

۱۲. د امارتي ورځپاڼو (شریعت، انیس، هېواد او کابل ټایمز) د یو کال کلکسیون د قضاء کتابتون لپاره جوړ او چاپ شوی دی.

۱۳. د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضيالقضات شیخ صاحب آداب المعلم و المتعلم کتاب (۱۰۰۰) جلده چاپ شوی دی.

۱۴ـ (۱۶۲۵) جلده قوانین، د درسي نصاب تدریسي مواد، متحدالمآلونه او بېلا بېل کتابونه چاپ شوي دي.

۱۵. له اړوند ادارو سره د چارو پر وخت ترسره کېدو په موخه همغږي شوې دي.

۱۶. (۱۴۰) عنوانه کتابونو ثبت او اندراج شوي.

۱۷ـ په قضاء کتابتون کې د کتابونو د ثبت لپاره نوی ډیټابیس جوړ شوی دی.

۱۸ـ د سفارتونو او بهرنیو مؤسسو څخه د مرستو د جلب، همغږۍ او په غونډو کې د ګډون طرزالعمل جوړ شوی دی.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۲ ) دوسیه، به تعداد (۱۳۳ ) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ۳/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۵) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۳) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۳۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۹۶) دوسیه، به تعداد (۱۴۳ ) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۴۷) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۲) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۴۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۲ ) دوسیه، به تعداد (۱۸۵ ) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته از تاریخ (۳/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۸۲) دوسیه، به تعداد (۱۸۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۸۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۰۰ ) دوسیه، به تعداد (۱۲۰ ) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت دایکندی طی دو هفته (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۰۰) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۰) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت نیمروز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۱ ) دوسیه، به تعداد (۶۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، آمریت وثایق، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت نیمروز طی دو هفته (از ۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۲۱) دوسیه، به تعداد (۶۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۸۳) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۱) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت نیمروز به تعداد (۶۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۲۲۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱ / ۲/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۱۵ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۲۲۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۳) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۷۸) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۴) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۹۲) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۰) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۳) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې (۲۷۵۶ ) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې (له ۱۶/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۱۶/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۲۷۵۶) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په یوه میاشت کې (۱۳۴) نکاح خطونه، (۱۲۵) قبالې، (۲۷) زوجیت خطونه او (۱۴۰) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۱۲) نکاح خطونه، (۲۳) قبالې، (۴) زوجیت خطونه او (۳۲۷) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په یوه میاشت کې (۳۷۱) نکاح خطونه، (۶۳) قبالې، (۲۵) زوجیت خطونه او (۲۶۳) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۱۸) نکاح خطونه، (۴۴) قبالې، (۱۰) زوجیت خطونه او (۱۲۷) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په یوه میاشت کې (۲۳۷) نکاح خطونه، (۴۵) قبالې، (۱۳) زوجیت خطونه او (۱۹۰) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۵۵) نکاح خطونه، (۳۶) قبالې، (۲۳) زوجیت خطونه او (۱۴۴) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت بادغیس یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش الحاج شیخ عبدالخالق (امدادالحق) رئیس محکمه مرافعه ولایت بادغیس و شیخ محمد معروف رئیس شورای علماء، به تاریخ ١٤ /٢ /١٤٤٨ هـ ق یک قضیه قتل که در نتیجه حادثه ترافیکی در آن ولایت به وقوع پیوسته بود، حل و فصل گردید.

در این قضیه با توجه به حساسیت آن و به منظور تأمین عدالت، حفظ وحدت اجتماعی و جلوگیری از طولانی شدن نزاع خانوادگی، جلسات متعدد با طرفین دعوی دایر گردید، که با استفاده از اصول فقهی، شرعی و عرفی، تأکید بر ارزش‌های اسلامی در مورد صلح و آشتی و ملحوظ داشتن جنبه‌های انسانی و اجتماعی، طرفین به سمت مصالحه دعوت گردیدند.

در نتیجه بعد از تلاش‌های پیگیر و خستگی ناپذیر، طرفین به صورت کاملاً داوطلبانه با رضایت قلبی در حضور نمایندگان خویش با همدیگر صلح شرعی و قانونی نموده، از تمام ادعاهای حقوقی و جزائی خود صرف نظر کردند.

## با تلاش مسؤولین محکمه ابتدائیه شهری ولایت بغلان شش قضیه قتل حل و فصل شد

با تلاش محترم مولوی عصام الحق (حقانی) رئیس محکمه ابتدائیه شهری ولایت بغلان و مولوی غوث الدین (احدی) رئیس دیوان جزا محکمه ابتدائیه شهری، همکاری اعضای قضائی و اداری در یک نیم ماه اخیر سال ۱۴۴۸ هـ ق شش قضیه قتل حل و فصل شد.

این قضایا پس از راجع شدن به محکمه شهری، از سوی مسؤولین مربوطه با دقت و بررسی همه‌جانبه مورد رسیدگی قرار گرفت. مسؤولین محکمه طرفین قضایا را به صلح ترغیب نموده و پس از رضایت جانبین، با تلاش‌های پی‌گیر آنان، قضایا از طریق صلح حل و فصل گردید و دشمنی‌ها و اختلافات میان طرفین به پایان رسید.

محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۴۳) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است.

## با تلاش مسؤولین محکمه ابتدائیه ولسوالی اندراب ولایت بغلان دو موضوع قتل حل و فصل شد

با تلاش سعی و کوشش مولوی محمدنعیم (نعمانی) رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی اندراب ولایت بغلان؛ به تاریخ ۲۰/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق دو قضیه قتل در میان دو قوم از طریق صلح حل و فصل شد.

این قضایا در محکمه ابتدائیه تحت غور و بررسی قرار داشت، به اساس ترغیب و توصیه‌های که از طرف مسؤولین صورت گرفت؛ برای شان از مزایا و خوبی‌های صلح به طرفین تفهیم شد، هر دو جناح توصیه و ترغیب به اصلاح را پذیرفتند، از طرف مصلحین و متنفذین خیراندیش در میان طرفین صلح صورت گرفت.

در اخیر موضوع قتل هر دو دوسیه مصالحت امیز حل و فصل شد، دشمنی دو قوم به دوستی مبدل شد، که مردم اندراب از رئیس محکمه ابتدائیه تشکری نموده و از کارهای محاکم قدردانی کردند.

## د کابل ولایت قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت د قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۱۲ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده پېښه، چې د قره‌باغ ولسوالۍ په بازار کې د یوې ترافیکي پېښې له امله رامنځته شوې وه؛ ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه.

د ابتدائیه محکمې لهخوا د حکم له صادرېدو مخکې دواړه لوري سولې او روغې جوړې ته وهڅول شول، چې د دواړو لوریو لهخوا ومنل شوه.

د مقتول د کورنۍ له رضایت وروسته، د محکمې له لوري یوه رسمي غونډه جوړه شوه؛ چې په کې د دواړو لوریو قومي مشرانو او علماوو هم ګډون درلود، په غونډه کې د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او دغه موضوع په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## د کابل ولایت قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت د قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب، په ۱۲ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده پېښه، چې د قره‌باغ ولسوالۍ په بازار کې د یوې ترافیکي پېښې له امله رامنځته شوې وه؛ ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه.

د ابتدائیه محکمې لهخوا د حکم له صادرېدو مخکې دواړه لوري سولې او روغې جوړې ته وهڅول شول، چې د دواړو لوریو لهخوا ومنل شوه.

د مقتول د کورنۍ له رضایت وروسته، د محکمې له لوري یوه رسمي غونډه جوړه شوه؛ چې په کې د دواړو لوریو قومي مشرانو او علماوو هم ګډون درلود، په غونډه کې د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او دغه موضوع په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د جنوب لوېدیځ زون اړوند بادغیس ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) او د سترې محکمې عالي مقام د هدایت په اساس د قضائي تفتیش عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) په مشرۍ یوه هیئت، چې د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش رئیس مفتي محمد اسلام (مسلم)، مفتي عبدالظاهر (لقماني) او مفتي فیض الرحمن (نثار) یې ملتیا کوله، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۸مه نېټه بادغیس ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

یاد هیئت د سفر په پیل کې د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د بادغیس ولایت له مرکزي زندان او توقیف‌خونو څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس او توقیف‌خونو اړوند نارینه‌وو، ښځینه‌وو او محجوزینو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او اړتیاوې یې له ځان سره یادداشت او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.


هیئت د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت (۹) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دیوانونو، د اسنادو، مخزن، وثایقو او حقوقو آمریتونو او نظامي محکمې څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

نوموړي هیئت د پلټنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخېستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښووني وکړې.

دغه راز یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نېمګړتیاوې له ځان سره یادداشت او په پای کې یې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نېمګړتیاوو د اکمال په اړه د یاد ولایت د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو له مسؤولینو سره تفاهمي ناسته وکړه او اړوند ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت له ولایت، علماوو شورا رئیس او د ولسوالیو له مسؤولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هیئت یاد سفر د ۱۴۴۸ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۴مه نېټه پای ته ورسېد.



احکام و فرامین قضائی
(۲)

## فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی
## در مورد تعیین حدود امور محاکم نظامی

شماره (۱۹)
تاریخ: ۱٤٤٣/٤/٢٣هـ ق

**فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی**
**در مورد تعیین حدود امور محاکم نظامی**

محاکم نظامی در روشنی احکام شرعی، صلاحیت سمع و تحقیق شکایات، دعاوی و عرایض صورت گرفته بالای مسؤلین و منسوبین ارگان های سه گانه امنیتی امارت اسلامی (وزارت دفاع ملی، وزارت امور داخله و ریاست عمومی استخبارات) و در صورت اثبات، صدور فیصله های شرعی را دارند، که تطبیق فیصله های آن (حدود، قصاص و اعدام) پس از تائید محاکم سه‌گانه و رهبری امارت اسلامی به طور عملی انجام خواهد شد.

ارگان های سه‌گانه امنیتی امارت اسلامی به طور جدی مکلف به عملی نمودن فیصله های محکمه نظامی می باشند.

**والسلام**

**امیر المؤمنین شیخ القرآن و الحدیث**
**مولوی هبة الله اخند زاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳